# اقوام متحده دَ معذورانو خلقو دَ حقونو کنونشن

دَ اقوام متحده دَ معذورانو دَ حقونو کنونشن جنرل اسمبلی په 13 دسمبر 2006ء کښے پاس کړے وو۔ او 3 مئی 2008ء نۀ پۀ دے عمل درآمد شروع شوے دے۔

زمونږ وطن پاکستان په دے کنونشن باندے په 25 ستمبر 2008ء دستخط کړے دے او په 5 جولائی 2011ء ئے باقاعده طور باندے دَ عمل درآمد دَپارۀ منظور کړے دے۔

## دفعه نمبر۲۹:






### دَ معذورو خلقو معاشرتی او سیاسی ګډون حق

شریک ملکونه به دا خبره یقینی جوړئ چه معذور خلقو ته به دَ یووالی په بنیاد باندې سیاسی حق حاصل وی۔ هغه دا چې معذور خلق به په معاشرتی او سیاسی زندګی کښې نیغ په نیغه یا آزادانه طور باندې ټاکلے شوی نمایندګانو په ذریعه دَ نورو سره دَ برابرئ په بنیاد باندې شمولیت اوکړئ شی۔ چې په هغے کښې معذور خلق ووټ اچولے شی۔ او دَ نمائنده په طور باندې ووټونو کښې حصه واخلی او دَ منتخب کیدو حق ورته حاصل وی۔

مونږ خپل حقوق غواړو خیرات نه






خبر دارے: دا پوسټر دَ پاک وومن په مرسته سر ته ورسیدو۔ دَ دې دَ ټولو برخو ذمه داری دَ پاک وومن ده۔

PAK WOMEN

An association of Pakistani Women Children and Persons with Disabilities

# دَ معذورانو سیاسی حقونه او ګډون

**مقصد:** دَ دې کتابچې مقصد دادے چې په راتلونکی عام الیکشن 2013ء کښې دَ معذورانو ګډون یقینی کړے شی۔ دې سره به په ملک کښې جمهوریت وَده و مو می۔

## معذوره کوم کس دے؟

دَ پاکستان دَ معذورانو په حقله دَ نیشنل پالیسی 2002ء تر مخه:–

"معذور هغه کس دے چې دَ زخمی کیدو په وجه وی یا دَ بیماری یا پیدائشی توګه سره دَدې جوګه نهٔ وی چې هغه څه خاص ګټه وَر کسب یا نوکری خپله کړی۔ په دې کښې چه سترګو معذوره، په غوږونو معذوره، بدنی معذوره او ذهنی معذوران شامل دی۔"

**یا دَ لرئ چې معذوران هم زمونږ دَ معاشرې حصه ده خو ولې**

دَ اقوامِ متحده دَ معذورو دَ حقوق دَ کنونشن دَ شِق نمبر1 تر مخه:

"معذوره هغه کس ته وئیلے شی چې دَ اوږدې بدنی، ذهنی او دَ محسوساتی کمزورو له کیله په صحیح او پوره توګه په معاشره کښې برخه نهٔ شی اخستے"۔

## دَ پاکستانِ دَ آئین دَ بنیادی بشری حقونو دَ دفعه نمبر25 تر مخه

**شِق نمبر1:**

دَ قانون په نظر کښې دَ پاکستان ټول وګړی یو برابر دی او دوئ ته دَ قانون لاندې یو شان حقونه حاصل دی۔

دَ دفعه نمبر 26 لاندې دَ پاکستان هر یو وګړی ته هر یو عوامی ځائې ته دَ ورتلو پوره پوره حق حاصل دے۔

معذوران هم دَ پاکستان وګړی دی دوئ ته هم پورتنی حقونه پوره پوره حاصل دی۔

معذوران هم زمونږ غونډې انسانان دی او زمونږ دَدې معاشرې یوه حصه ده۔ دوی هم دَ نورو انسانانو په شان ضرورتونه لری خو ولې زمونږ په وطن کښې:

١) دَ معذورونو خلقو په حقله څه نا څه قانونی تقاضې شته خو ولې په هغې عمل نهٔ شی کولے۔

٢) دَ ملک دَ آئین تر مخه هر یو وګړی ته بنیادی بشری حقونه حاصل دی او معذوران هم دَ پاکستان وګړی دی۔ خو ولې دَ دوئ سره امتیازی سلوک کولے کیږی۔

٣) وطن کښې او په صوبه خیبر پښتونخوا کښې کلیزه ترقیاتی منصوبې دی او کهٔ ترقیاتی بجټ جوړولے شی په هغې کښې معذورانو ته پام لر نه نهٔ کیږی۔

٤) دَ معذورانو ګډون په معاشی، معاشرتی او سیاسی توګه دَ ښشت برابر دے۔

٥) دَ سیاسی پارټو په منشور کښې هم دَ معذورانو ذکر قدرې نشته۔

٦) دَ معذورانو دَپاره هر ځائې کوټه سسټم شته خو ولې په کوټه عمل نهٔ کیږی۔

آخر دا ولې؟

**یاد ساتئ:**

چې صرف هغه معذوران خپل ووټ استعمالولے شی دَ چا چې شناختی کارډ جوړ وی او چه ووټر لسټ کښې یې نوم لیکلے وی۔ ووټ له دَ تلو په وخت خپل شناختی کارډ ځان سره یو سئ چې هیر مو نهٔ شی۔





## زما ووټ

دَ روښانه مستقبل دَپاره

دَ خوشحاله پاکستان دَپاره

| | |
|---|---|
| دَ ووټ حکمرانی | معذورانو له قامی شناختی کارډ او ووټ جوړول ډیر ضروری دی۔ |
| دَ جمهوریت وَده | دَ معذورانو ووټ — دَ جمهوریت کامیابی |

دَ 1998ء دَ مردم شماری تر مخه په ملک کښې دَ معذورانو شمیر دَ ټولې آبادی 2.49 فی صده دے۔ او په صوبه خیبر پښتونخوا کښې 11.1 فی صده دے۔ دَ معذورانو شمیر کوم چې دَ پاکستان دَ معذورانو په پالیسی 2002ء کښې ورکړے شوے دے هغه په دې ډول دے۔

| | | |
|---|---|---|
| ١) | بدنی معذوران | 19 فی صده |
| ٢) | ذهنی معذوران | 14 فی صده |
| ٣) | دَ ګڼو مرضونو ښکار معذوران | 8.21 فی صده |
| ٤) | په سترګو معذوره خلق | 8.6 فی صده |
| ٥) | په غوږونو معذوره خلق | 7.4 فی صده |

## معذورانو دَپاره دَ ووټ حق

معذورانو او مشرانو سپین روږو دَپاره دَ شناختی کارډ جوړولو او پولنګ سټیشن ته دَ رسولو او ووټ اچولو په وخت دَ نورو خلقو دَ مدد ضرورت وی۔ معذورانو ته دَ ضرورت په وخت دوئ ته دَ هر قسمه مدد ورکول دَ معاشرې دَ نورو خلقو ذمه داری ده۔

## دَ ووټ اچولو طریقه

١) کله چې یو ووټر پولنګ سټیشن ته وَرسی نو دَ ټولو نه اول به هغه دَ خپل قامی شناختی کارډ په ذریعه خپله پیژندګلو کوی۔

٢) دې نه پس به ووټر لسټ کښې دَ هغه نوم کتلے شی او بیا دَ لسټ نه دَ هغه نوم کټ کړے شی۔

٣) دې نه پس دَ ووټر په ګوته نهٔ ورانیدونکې نخښه لګولے شی۔

٤) بیا اسسټنټ پریذائیډنګ افسر دَ ووټر لسټ نه دَ ووټ نمبر او دَ شناختی کارډ نمبر دَ بیلټ پیپر په کوټ ولیکی او دَ ووټر ګوته پرې ولګوی۔

٥) ووټر له دَ بیلټ پیپر ورکولو نه مخکښې اسسټنټ پریذائیډنګ افسر دَ بیلټ پیپر په شا طرف خپل دستخط کوی او سرکاری مهر لګوی۔

٦) بیا ووټر ډیر په راز کښې دَ خپلې خوښې دَ امیدوار دَ نوم او انتخابی نخښې وړاندې مهر ولګوی او بیلټ پیپر راونغاړی او په بیلټ بکس کښې یې اچوی۔

Material taken with thanks from ECP.Provided Material for Voter's Education.

خبردارے:– دا پوسټر دَ انټرنیشنل فاؤنډیشن فار الیکشن سسټم (IFES) په مرسته سر ته ورسیدو۔ دَدې دَ ټولو برخو ذمه داری دَ پاک وومن ده۔